الله پاک فرمایی یو لویشت خدای ته نږدی شی خدای (ج) یو ګز ورنږدی کیږی چی یو ګز نږدی شی ترهغې نه زیات خدای (ج) پاک تاته نږدی کیږی دوچنده . ورنږدی کیږی اوکه په شپیرشوی ګامونو د خدای (ج) په لوری لاړی الله پاک په منډه درځی معنی ئی دا ده چی دهغه رحمت په سریع توګه ستا په حال شامل دی د هغه نصرت د هغه تائید دهغه وسیع رحمت دی محسنینوته ډیری نږدی دی هر څو نه چی انسان نیکو کاری کوی او د ښیګڼو او نیکو کاری په نتیجه کی د خدای طرف ته ډروسی همدومره د خدای

> زه طالبانوته وایم که تاسو رښتیا ددین طالبان یاست مونږ ستاسو ملګری یو راشی مذاکراتو کی برخه واخلی ددین لپاره چی هره معقوله طرح اوپیشنهاد لری مونږ دهغه محراب کی له تاسو سره وعده کوو چی دهغه ملاتړ به کوو تاسوچی داسلام په خیر دخپل ملک په ګټه هروراندیزولری هره غوښتنه ولری ، هره مطالبه ولری مونږ په ټول توان طالت تیاریو چی دهغی ملاتړ وکړو.

(ج) وسیع رحمت او پیرزوینه او عنایت د هغه په حال شاملوی الله (ج) دی مونږ ته توفیق راکړی چی په واقعی معنی خپل خدای همیشه یاد کړو او ددی ګړاوونو نه د وتلو لارهم همغه لاره اختیار کړو چی قرآن مونږ ته ښودلی خدای (ج) ته مخه کړو د الله (ج) قرآن ته رجوع وکړو او دعا اولمانځه سره له خدای (ج) نه مرسته وغواړو اوس دی الله پاک زمونږ په قوم ورحمیږی او زمونږ دا درد ناک وضعیت چی نن زمونږ قوم ورسره مخامخ دی په خپل لطف او کرم بدل کړی چی په ملک کی سوله امنیت او کراری را پیدا شی ، زمونږهغه یو آرمان ترسره شی ، اسلامی حکومت قایم شی زمونږ آرمان نه بلکی د ټول اسلامی امت آرمان د اسلامی امت ډیریو ډیریو آرمان د ډیر یو ډیر یو نه را پدیخوا د اسلامی امت همدا آرمان دی چی هغوی اسلامی حکومت ولری اسلامی خلافت احیا شی ، دمسلمان امت هغه تیر عظمت را ژوندی شی د پردیو د تسلط نه وژغورل شی ددی غلامی مریتوب او اسارت نه وژغورل شی .

ورونو،مونږ چی کله دا بحران ولید چی زمونږ ملک ورسره مخامخ دی له دینه پرته بله لارنشته چی دحزب اسلامی او جمعیت سره دخبرو اترو له لاری دی بحران ته دحل یو د معقوله لار پیداکړو باید یو نوی ابتکار وشی ترڅو داحالت بدل شی ددی حالت له ادامی نه زمونږ د دښمنان ګټه اخلی له نورو لارو ونه شوو توانیدلای چی دا وضعیت بدل کړو ګمان مو کولو که شاید زمونږ او دطالبانو دتفاهم په نتیجه کی دی بحران ته یوه معقوله لارپیدا کړو اوږده موده مولږ هغوی سره مذاکرات درلودل په صادقانه او مخلصانه توګه مودی مذاکراتو کی برخه واخستله طالبانوته پداسی حال کی چی له مونږ سره جنګیدلی ژ مونږ نه ډیر امتیازات ورکړل پدی امید چی کیدای شی زمونږ او دهغوی ترمنځ د یووالی او اتفاق په نتیجه کی دکابل جګړه پای ته ورسیږي اوواقعیت هم داؤ که زمونږ اودهغوي هغه معاهده تکمیل شوي اواعلان شوي واي شاید یواځي په اعلان سره بې هم دکابل جګړه پای ته رسیدلي واي یواځي اعلان کافي ژ خوهغوي پس له هغي چې پرمعاهده بې امضا وکړه ډیې بې سې له لاري بې اعلان کړچې مونږ نه له چاسره مذاکره کړي ،نه معاهده لرواو نه مو معاهده امضا کړي . نه یواځې دا چې هغوي معاهده تردید کړه بلکې زمونږ په خلاف بې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې چیرته چې دوي مسلط وو تحرکات پیل کړل زمونږ افراد بې نیول ، وهل ، ټکول ،دهغوي کوروته بې تلاشي ،خپلوان بې ورته نیول اوهومره ظلم اوتیري بې وکړچې د کمونستانو په دور کې هم دخلکو سره ندي شوي واقعیت دادې چې ګڼ شمیر کسان داسي شول چې له ډیرو وهلونه فلج شوي خپله قوماندان اومجاهد خوپرپرده دهغه ورور ،پلار، تره ،خپلوان بې اجازې دشپې دورځي ،نیمه شپه دهغو کوروونو ته ورننوتي ،ښځې اوماشومان بې ورته ځورولي ،کوریي ورته تلاشي کړي ،وسلې بې ورنه اخیستي ،زمونږ مجاهدین یوځل بیا مجبور کړاي شول له هغومنطقو نه هجرت وکړي چې دطالبانو ترتسلط لاندې دي ، دکمونستانو په دورکې هم مهاجر شوي ژ ددوي تر تلونه بعد هم مهاجر شول هغه وسلې چې دوي روسانو ته وربانډي ماتي ورکړي وه له دوي نه بې اخیستلي کاشکې بیا دملت په ګټه ورنه استفاده شوي واي . اخستل کیدلي بیا پاکستان ته لیږل کیدي، کوشش مووکړچې طالبان پدې قانع کړو چې ددې عواقب ښه نه دي زمونږ کسان مه ځوروي شریعت تاسو ته څنګه اجازه درکوي اوکوم اسلام تاسو ته اجازه درکړي چې د یوه چا کورته د هغه داجازې نه پرته داخل شي ،دیوه مسلمان دکور حرمت مه ساته او دهغه نه دهغه خپله شخصي وسله په زور واخله ،ددي وسلي په خاطر هغه وهه ،وحشیانه طور دهغه وهل ټکول نه پیژنم دا کوم اسلام ،کوم شریعت تاسوته اجازه درکړي ،ولس زمونږ افراد ستاسو ترتسلط لاندي منطقو نه مهاجریږي ! دکمونستانو په دور کیني چې هغوي کوم هجرتونه کړي همداورته کفایت کړي هغوي زمونږ خبري وانه وریدلي ،دمذاکراتوجریان کې موهغوي ته وویل چې ځورولو ،دخلکو دکوروونوتلاشي ، دمجاهدینو ،قوماندانانودسپکولو ،بې عزته کولو ،دهغوي نه دوسلوداخستلونه ډډه وکړي پرېږدي چې دا مجاهدین په اطمینان اوږاوم سره لارشي هغې منطقي کې اوسیږي هیڅ له تاسو سره نه جنګیږي دوي هم همدا غواړي چې دکابل بحران دي ختم شي ،جګړه دي پاي ته ورسیږي،حزب اسلامي له تاسو سره ندي جنګیدلي ،نه جنګیږي ،خپل ټول سنګرونه یې تاسو ته پریښودل په همدي امید چې کیداي شي په همدي ترتیب د افغانستان بحران پاي ته ورسیږي ولي متأسفانه چې هغوي زمونږخبره وانه وریدله . تاسي لارشي دلوګر له ولس نه پوښتنه وکړي چې له دوي سره د طالبانو ترنامه لاندي هغو مسلطوخلکو څه معامله کړي ده ،دا اوس اوس دهغوي ګڼ شمیر کسان په شفاخانو کې بستر دي چې په کیبلونودوهلونه بعد هغوي فلج شوي ،ورو کې ماشومان دقوماندانان زوي ،دمجاهدورور په همدي جرم چې هغه باید وسله ورنه اوسله طالبانوته تسلیم کړي وهل شوي ،تعذیب شوي بالاخره مونږ مجبور شوو چې دافغانستان دبحران دحل بله لارولټوو ،مونږ دجمعیت اسلامي سره مذاکرات شروع کړل دامذاکرات هم څه نوي خبره نده یه بار بار له هغو سره مونږمذاکرات کړي دا لومړي ځل نه ؤ له دې نه مخکې هم په پېښورکې ،په اسلام آباد کښي ،په جلال آباد کي ،چارآسیاب کي ،پغمان ،بګرامي ،سروبي کي په دغوځایونوکي په بار بار زمونږ اودهغوي ترمنځ مذاکرات شوي ،معاهدي شوي ،اوربندونه شوي اودمذاکراتو سلسلي وشدیدو جګړوپه جریان کي هم دوام درلود ،داځل ظروف اوشرایط داسي برابر شوي وو چي بایدزمونږمذاکرات یوي معقولي نتیجي ته ورسیږي ،بالاخره دمذاکراتوپه نتیجه کي پربوي معاهدي امضاوشوه ،دمعاهدي تحلورسندونه دي ، ددي لپاره چي په افغانستان کي یو واقعي اسلامي نظام قایم شي ،دلته به دولس په خوښه یومنتخب امیر ټاکل کیږي ،په افغانستان کي به یوازي هغه څوك دحکومت کولو حق لري چي په ما انزل الله حکم وکړي اوخلکو په خپله خوښه انتخاب کړي وي یعني څوك چي په ماانزل الله حکم ونه کړي هغه دحکومت کولو حق نلري هغی ددي وړندی چي دهغی اطاعت وشي اوڅوك چي په زوروجبر ،دټوپکو ،سازشونو له لاري قدرت ته ورسیږي ،هغه په افغانستان باندي دحکومت کولوحق نه لري ،ملت به بې په خپله خوښه ټاکي بیا هغه دحکومت حق لري .

داچي یو مؤقت حکومت به جوړیږي ټولړولوته دمنلوړو مؤقت حکومت ټولي ولي باید خبرواتروته کیني اوپه یوه مؤقت حکومت باندي توافق وکړي ،ګډ پوځ جوړشي ،دکابل اونوروښاروتولپاره ګډه امنیتي قوا جوړه شي ورووسته بیا یواسلامي پوځ جوړ شي چي دا به نه دکوم خاص حزب پوځ وي اونه به دخاص قوم نه جوړشوي وي . دابه داسلام پوځ وي دابه داسلامي نظام پوځ اوهیواد ساتونکي پوځ وي مونږ په داسي اساسي ټکو خپلومنځونکي توافق کړي اوفیصله موکړي چي پس له دي چي زمونږ اودهغوي ترمنځ معاهده امضا شوه ګډ هیئتونه به لیږو نوروتنظیمونوسره به هم په دي باب مذاکرات کیږي ترڅوهغوي هم قانع شي راشي پدي عملیه کي برخه واخلي ،مؤقت حکومت کي شرکت وکړي ،دجګړونه لاس واخلي اوډخبرواترولو لاري خپل مشکلات هم حل کړو،دیروته دامعاهده اوپرهغې امضا خلاف داانتظارژګنان یې نشرکولاي . دښمنان کوم چي زمونږ اختلاف خوښوي کوم چي زمونږجګړي خوښوي ،که مجاهدین په خپلومنځونو کې جنګیږي هغه خپلې ګټې ؛ همدي کي ګټه چې هغه چي داسلامي حکومت دجوړیدونه ویریږي هغوي ته دمجاهدینویووالي که څه هم ددووډلوترمنځ وي یوخطرناك حرکت دي ،کومه ورځ چې راډیوګانو داخبره اعلان کړه چې زمونږاوهغوي ترمنځ یوه معاهده امضا شوي ،واشنګټن کې دیوه لوي مسئول شخص نه پوښتنه وشو چې داخبره دي څنګه ومونډلو ،څنګه دي واوریدله اوډیر بد خبر ؤ ،دحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي تر منځ یووالي ،خطرناك خبر ؤ ،بد خبر ؤ ،دجګړوخبري اوراپوروته هغوي ته خوشاینده دي خو دیووالي هرخبرکه څه هم ددووډلوترمنځ وی یوخطرناك حرکت دي

هغه ټول امت تجزیه کول غواړي اوس هغه داافغانستان په دی حالت هم قانع ندی !

غواړی چی داهی هم تجزیه کړه د افغانستان د تجزیی لپاره پلانونه جوړ وی دا اوس هغوی هرچانه ددی سفارش کوی چی د افغانستان لپاره مناسب نظام فدرالی نظام دی یعنی چی څو مستقل ایالتونه وی شمال کی یو ایالت مستقل ، شمال شرق کی بل ایالت ، جنوب او جنوب غرب کی بیل ایالت او مرکزکی د هزارجاتولپاره بیل ، مشرقی لپاره بیل هغوی غواړی چی افغانستان تجزیه کړو ټوټی ټوټی ئی کړی . [illegible] د فدرالی نظام سفارش کوی پداسی حال کی افغانستان واحد قوی ملی پوځ نلری یو قوی مرکزی حکومت نشته تر اوسه لا مرکزی نظام ندی قائم شوی پدی حالت کی مستقل مستقل ایالتونو جوړولو معنی پرته له تقسیم ، نه د افغانستان له تجزیی نه ، بل څه کیدای شی ؟!

چی کندهار دی بیل پوځ ولری مشرقی کی دی بیل پوځ وی په بامیان کو بیل په کابل کی بیل، په مزار کښی بیل د هغوی واکداران دی مستقل وی ددو معنی . له دی نه پرته چی افغانستان تقسیم شی نورڅه کیدای شی .

دښمنان زمونږ مزید تجزیه غواړی دا اوس عراق کی غواړی چی کردان بیل کړی او دا د بیلولو او تجزیی پروسه یواځی په عراق کی محدوده پاتی نشی ترکیی ته هم سرایت وکړی ایران ته هم سرایت وکړی هغه [illegible] ، کوچنی. دلته نه خونبوی ، شیخ نشینی ، چی هر ملك د یوه ولایت په اندازه د لغمان په اندازه دغسی ولایتونه اومرکزونه او ملکونه خونبوی هغوی ځانته یووالی خونبوی اروپا باید متحده شی ، سرحدات یې ختم شی د ویزی ضرورت منتفی شی او پیسی یې یوه شی ټوله اروپا باید یو پارلمان ولری څوکاله بعد اروپاباید د یوه ملك په توګه سر را اوچت کړی امریکا باید متحدوه (۵۲) ایالتونه چی باید یو ملك وی دیوه واشنګټن نه باید رهبری شی خو زمونږ د افغانستان په شان کوچنی ملك هم باید تقسیم شی داهم باید په بیلو بیلو مستقلوخودمختارو ایالتونو باندی بدل شی .

دهمدی لپاره ده چی هغوی کله زمونږ دیووالی خبر اوری وایی دا یو بد خبرؤ ، دا دخطر زنګ دی ددی باید مخنیوی وشی تاسی داشپی ورځی اوری بی بی سی اوصدای امریکا څنګه په طمطراق سره ددی یووالی په خلاف مرکی کوی خبری جوړوی راپوروته ترتیبوی دښمنان خوحق لری چی زمونږله یووالی نه وویریږی دمسلمانانو یووالی هغوی ته خطر دی مسلمانان باید بیل بیل او ضعیف وی ترڅو په هغو باندی پردی حکومت وکړی هغوی بایدقوت له مرکزنه برخمن نشی کوم ملك هم چی غواړی اتومی وسله جوړه کړی قوی پوځ ولری ، مدرنی وسلی ولری دا باید ټوټی ټوټی کړی دا ملك ختم کړی دهغه په خلاف داټورملکونه باید استعمال کړی دجګړو اوربل کړی ، په خپلو منځونو کی یی وجنګوی لکه عراق تاسوولید چی څنګه یی ختم کړ دااوس ګوری چی ټولی محاصری په اسلامی ملکونو باندی دی .

لیبیا محاصره ، سوډان محاصره ، عراق محاصره دی ، ایران باندی بندیزونه دی، ولی ګنهکار یوازی همدااسلامی

> اوس دی الله پاك زمونږ په قوم ورحمیږی او زمونږ دا درد ناك وضعیت چی نن زمونږ قوم ورسره مخامخ دی په خپل لطف او کرم بدل کړی چی په ملك کی سوله امنیت او کراری را پیدا شی ، زمونږهغه یو آرمان ترسره شی ، اسلامی حکومت قایم شی زمونږ آرمان نه بلکی د ټول اسلامی امت آرمان د اسلامی امت ډیریو ډیریو آرمان د ډیر یو ډیریو نه را پدیخوا د اسلامی امت همدا آرمان دی چی هغوی اسلامی حکومت ولری اسلامی خلافت احیا شی ، دمسلمان امت هغه تیر عظمت را ژوندی شی د پردیو د تسلط نه وژغورلی شی ددی غلامی مریتوب او اسارت نه وژغورل شی .

ملکونه دی چیری چی داسلام خبره کیږی یاغرب ته سرته ټیټوی داباید محاصره شی ، داباید تضعیف شی، دجګړو سره مخامخ شی. دښمنان خوحق لری چی هغه زموږ په یووالی خفه شی خوزه نه پوهیږم چی خپله افغانان ولی باید زمونږ دیووالی ته په ویره کی وی ، نورتنظیمونه ددی پرځای چی ددی استقبال وکړی، ددی خبری ملاتړوکړی ، هغوی هم له دی پروسی سره ملګری شی برعکس غواړی یومنفی عکس العمل وښیی . طالبانو خو یو وخت ویل چی داتنظیمونو خپلو منځونو کی جګړه کوله مونږ دجګړی ختمولو لپاره وسله راواخستله اوس چی مونږ جګړه ختموو اویووالی او ورورولی لاس ورکوو نه پوهیږم اوس څه توجیه لری چی دهغی مخالفت کوی . تاخو ویل چی دی تنظیمونو خو خپلومنځونو کی جګړه کوله مونږ دجګړی ختمولو لپاره دلاروخلاصولو لپاره، په کابل دراکټو وریشلو دمخنیوی لپاره ، دپاټکونو دختمولو لپاره راپورته شوی، یو داتنظیمونو ته به موټرچیان ویل اوس څنګه شرچی ددوتنظیمونو ترمنځ دیووالی په خلاف ټوپکیان دعوت کوی اوغواړی دهغوی په خلاف یوه نوی نظامی سیاسی جبهه جوړه کړی پرون چی ته مونږیوی داسی جبهی ته راوبللی دهغه مخالفت دی کاوه په معاهده دی امضا وکړه له هغی نه بعد دی داتردیدکړه خو نن غواړی چی ددی یووالی په خلاف ګډه نظامی جبهه جوړه کړی اواعلان هم کوی چی دارهبران مونږدوی لپاره راغواړو چی په جنګ کی دطالبانو مرسته وکړی زه طالبانوته وایم که تاسو رښتیا ددین طالبان یاست مونږ ستاسو ملګری یو راشی مذاکراتو کی برخه واخلی ددین لپاره چی هره معقوله طرح اوپیشنهاد لری مونږ دهغه محراب کی له تاسو سره وعده کوو چی دهغه ملاتړبه کوو تاسوچی داسلام په خیر دخپل ملك په ګټه هروراندیزولری هره غوښتنه ولری ، هره مطالبه ولری مونږ په ټول توان طالت تیاریو چی دهغی ملاتړ وکړو ګه ته وائی چی ربانی دی رئیس جمهور نه وی هغه دی په خبرواترو کی برخه واخلی همله وواپه که ته داسلام لپاره بله غوښتنه لری خبرواترو کی مطرح کړه مونږ ستاملاتړکوو اوکه وائی چی مونږ کابل په جنګ فتح کوو ماته وواپه څومیاشتی نورضرورت لری زه به درته وخت درکړم ، یونیم کال کی خو ونه توانیدی، وواپه څومیاشتی نورضرورت لری زه به درته وخت درکړم که په جګړوکابل نشی فتح کولای نوده کاره وکړه یاداچی مونږته انتظاروکړه ، مونږ ته موقع راکړه که مونږکابل کی تبدیلی راوستله اصلاحات راغلل، اسلامی نظام قائم شو داسلامی نظام لپاره لاره خلاصه شوه ، جګړه پای ته ورسیده امنیت تأمین شو ستاغوښتنی ترسره شوی ته هم راشه له مونږسره ملګری شه اوکه نه وویبادی چی څه له وسه پوره وه هماغه وکړه اویاداچی همدااوس اوس په مذاکراتو کی شرکت وکړه چی کوم اسلامی وړاندیز لری څه غوښتنه اومطالبه لری مونږ دهغی ملاترکوو ولی متاسفانه چی هغوی په جنګ اصرارکوی هغه نه یوازی په کابل کی جګړی غواړی بلکه په نوروولایتونو کی هم دجګړی هڅه کوی ماته آیله ورځ چاویل چی دلغمان څینی کسانو چی پدی جګړو کی شرکت کړی و جنازی ئی لغمان ته راوړل شوی څینو ولسوالیوته له موټرونه کوزی کړی شوی اوچادهغوی جنازه نه کوله وجه ئی څه وه چی څوك وړنږدی کیدل نه معلومه کسان وه . زمونږځینی ورونه چی پدی پوه شول چی دادطالبانو مړی دی هغوی پورته کړی په احترام سره ئی دفن کړی . چادویری نه دهغوی جنازه نه کوله اوپاپدی خاطر چی داجنګ شرعی جنګ نه ګڼی او پدی کی مړشهید نه شمیری عامل یی څه هم و .

زه داطالبانوورونوته وایم اول خوښه داده چی دوغی جګړو نه لاس واخلی په دغسی جګړو کی دمرګ نه ځان وساتی اوکه غواړی چی جګړی وکړی ښه ده ته به پدی قانع اوراضی وی اوچیرته چی جګړی دی همغه جنګ دی داجنګ دنورو منطقوته مه راانتقالوه دلته چی څوك له طالبانوسره دلچسپی او همدردی لری مونږئی مخه نه نیسو مونږ دهغوی دسپکولو ، بی عزته کولو، وهلواوټکولو اوهماغه معامله ورسره کولو اراده نلرو چی تاسی ئی په څینو ولایتونو کی له مونږ سره کوی دانه کوو خودوی ته دومره وایو چی داجګړی لغمان ته مه راانتقالوی پریږدی چی دادلغمان خلك په آرامی اوسوکالی کی شپی او ورځی تیری کړی دلته فتنی مه راانتقالوی دلته دفتنو اورمه بلوی پټاکی که همت وای لاړشه په همغه اول خط کی همغه وجنګیږه .

ورونو، زمونږ هیله همداده چی ان شاء الله دکابل جګړه به هم ختمیږی دکابل بحران به هم ختمیږی او پدی کی به هم دلغمان دولس لویه برخه وی ان شاء الله داسلسله هم پیل شوی ډیر ژر به ټول قوم واوری چی جګړه دتل لپاره پای ته رسیدلی اوپه کابل کی دملت دخوښی یوقوی مرکزی اسلامی حکومت جوړشوی زه ددغه سباون راختو ته ډیرزیات امیدوار اومنتظریم .

ورونوا ددی فرصت نه په استفادی سره زه نن یوه بله مهم مسأله هم چی دلته لغمان کی دلغمان په ولس پوری ! مختص دول مربوط ده هغه یادوم چی پد تیرهوروکی دانقلاب په جریان کی ،دکمونستانو دتسلط په دوران کی ډیر خلکوځمکی په زور اوجبر اخستل شوی توزیع شوی ، غصب شوی اوځینی خو دمجاهدینو په راتلو سره بېرته خپلوخاوندانوته سپارل شوی خو آورم په ځینو ځایونوکی لاتراوسه پوری هم دځینوکسانو ځمکی چی یامهاجرد ی، یامنطقی ته نشی راتلای ، یائی وس نه رسیږی دادلورو په لاس کی پاتی شوی ، زه دائن دهمدی منبر نه داخبره اعلانوم امیدوی چی ټول قوم له دی سره متفق [illegible] اوبه ګډه ټول پدی، باندی عمل وکړی ټولی غصب شوی ځمکی چی د هرنامه دداخلی جګړو په نتیجه کی ،دکمونستانو دتسلط په نتیجه کی اودغیراسلامی حکومتونو دتوزیع او تصفیه په اساس چاغصب کړی وی هغه دی بېرته خپلو خاوندانو ته مستردی کړی دسږکال دحاصلاتو په شمول ، سږکال چی هغوی دځمکو نه کوم حاصلات اوحاصل هم اخستی هغه دی هم بایدی خپلو خاوندانوته وسپارل شی .

زه ټولو خلکوته اعلان کوم چی هغوی آزادانه په داد اواطمینان سره کولای شی چی خپلو منطقو ته راشی خپل پټی واپه وی، خپله ځمکه ترلاسه کړی که څاسره هم مخالفت کیده ، زورزیاتی کیده اوځمکی بېرته سپارلو نه اجتناب اووده کیده مونږته دی ووایی ان شاء الله دهغه حق به ورته سپارو دهغه ځمکه به ورته تسلیمیږی خودی ته هم باید حاجت پاتی نشی له همدی نن څخه باید داسی ځمکه دهیڅا په لاس کی پاتی نه وی نورسره له نن څخه دهرچاخپلی ځمکی باید هغوی ته مستردشی اوهیڅوك باید پردی ځمکه په لاس کی پاتی نه وی هیڅ قوماندان هیڅ مجاهد، هیڅ مسلح کس دخپل رقیب نه دښمن نه دځاځمکه زوره دوی نه بعدله ځانه سره نشی ساتلی اوسرله نن هیڅانه داعذر ندی پاتی چی

خلورم مخ

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

نمبرمسلسل (۱۱۵٦) سال نزدهم پنجشنبه (۲٤) جوزاي ۱۳۷۵

قيمت يك شماره (۵۰۰) افغاني (۳) روپيه

نبوي لارښووني

له حضرت ابن عباس «رض» نه روايت دی چی آنحضرت «ص» حضرت معاويه «وض» ديمن حاكم كړ ،نووړته يی وفرمايل :چی هلته ورشی نو خلكو ته دعوت وركړه چی دااقرار وكړی چی ديو الله نه غير بل هيڅوك د عبادت ور نه دی اوزه (محمد «ص») دالله رسول يم .كه هغوی دا خبره ومنله (ايمان يی راوور) نوبيا يی په دی خبركړه چی الله تعالی وربانّدی په شواروز كی پنځه لمونځونه فرض كړی دی ،كه دايی هم ومنله نو بياورته ووايه چی الله تعالی دربانّدی زكوة فرض كړی دی چی ددوی دمالدارونه به اخيستل كيږی اوددوی فقيرانو ته به وركول كيږی .

(بخاري- مسلم)

احكام دين خودرابياموزيم

مفسدات نماز

۵ - ازواجبات نمازكدام يكي وياهمه راقصداً رهاكرد.

٦- واجبات نماز به اثر فراموشي ترك گرديد، اما سجده سهو نيز نكرد.بازهم خواندن دوباره نماز ضروري است .

۷ - بدون كدام عذر وياضرورت سرفه كرد، البته اگر به اثربيماري بي اختيارسرفه آمد، يابراي صاف كردن حلق سرفه كرد، يا مقتدي براي آن سرفه كرد كه امام متوجه غلطي خود گردد، ياكسي بخاطرآن سرفه كرد كه مردم بدانند كه او نماز ميخواند، دراين حالات نماز فاسد نميگردد واما اگركسي بدون كدام عذر ويا ضرورت اساسي سرفه كرد نماز فاسد ميگردد.

دافغانستان اسلامي پوهنتون دمحصلينو كلني آزموينه چي دجوزا په اوومه پيل شوي تر (۲۸) پوري دوام لري

ددريو پوهنځيو (٤۰۰) تنه محصلين په ازموينه كي برخه لري

دافغانستان داسلامي پوهنتون د۱۳۷٤ او ۱۳۷۵ تعليمي كال دروستي آزموينه چي دجوزا په اومه نيټه پيل شوي ، دجوزا تر(۲۸) مي نيټي پوري به دوام ومومي اوپه هغي كي دطب، انجنيري ، اوشرعياتو پوهنځيو (٤۰۰) تنه محصلين ګډون لري .

دمطلب دافغانستان داسلامي پوهنتون اداري مرستيال استاد امان الله «ثاقب» دشهادت خبريال ته دپوري پوښتني په ځواب كي څرګندكړې اوزياته كړې يې «» چي ؛ ددي آزموينې ترپاي وروسته دمحصلينو مرسمي رخصتي پيل كيږي چي دسنبلي تر (۱۵) مي پوري به دوام كوي او دپوهنتون دعالي شورا دپريكړي په اساس به دجديد الشمولانو دكانكور آزموينه دروان كال داسد دمياشتي په (۱۵) نيټه په نصرت مينه كي اخيستل كيږي .

نوموړي همدارازوويل : دجديدالشمولانو دنوم ثبتول به دسرطان له (۱۰) مي نيټي څخه پيل كيږي چي داسدتر(۱۰) مي نيټي پوري به دوام ولري .

استاد امان الله «ثاقب» وويل : په نظركي نيول شوي چي په راتلونكي تعليمي كال كښي ۳۰۰ تنوهغه زده كړونكو ته چي په كانكور آزموينه كي لوړي نمري ترلاسه كړي دداخلي حق وركړل شي .

هغه وويل : دجديدالشمولانو تعليمي اسنادبه په غور ځارل كيږي اوهغه كسان چي اسناديې اشتباهي وي دهغوي له داخلې څخه په معذرت ، وغوښتل شي .

دافغانستان داسلامي پوهنتون اداري مرستيال وويل : زموږ زياته هڅه داده چي زموږ دپوهنتون فارغين وكولاي شي په هرځاي اوهرو شرايطو كي له خپل علمي سندڅخه عملا دفاع وكړاي شي، هيواد اوهيوادوالوته دخدمت مصدر واقع شي اوهمدي اصله چاته اجازه نه وركول كيږي ، چي د واسطي يابلي غيرقانوني لاري څخه پدي پوهنتون كي شامل شي يادفراغت سند ترلاسه كړي .

حزب وجمعيت ميخواهند

بناي محكمي باشد براي دفاع ازوحدت وتماميت ارضي كشور وايجاد نظام صالح ونيرومندي كه براي همه اقشار ملت قابليت پذيرش را داشته باشد، مطمئن هستم كه بزودي اين توافقات عملي خواهدشد .

درين راه مشكل جدي وخاصي وجودندارد وبحث هايي كه جريان دارد هردوطرف ميخواهند اداره سياسي جديد كشور به گونه‌يي باشد كه براي همه اطراف وهمه مليت هاقابل قبول بوده ودرآن حقوق حقه همه اين جهت ها تأمين گرديده ودرمركز حالتي ايجاد شود كه براي همه مايه اطمينان وتائيد باشد . درين راستا هنوز هم تلاش وجود دارد كه اين توافقات وتفاهمات به توافقات جامع وهمه گيروسرتاسري مبدل شود.

حزب اسلامي وجمعيت اسلامي متحدانه تلاش دارند تاجناح هاي ديگرنيز به سلسله اين تفاهمات بپيوندند».

«جرير» به جواب اين سوال كه عضويت حزب درشوراي عالي هماهنگي چگونه بوده وهمچنان نظرتان درمورد مصاحبه حضرت مجددي كه امروز بايك روزنامه پاكستاني انجام داده چيست ؟ گفت : بنده هفت روز قبل باآقاي خليلي رهبر محترم وبزرگوار حزب وحدت اسلامي درباميان ملاقات داشتم؛ موقف شان مثل سابق بود، ودررابطه باتحكيم هرچه بيشتر شوراي عالي هماهنگي وايجاد فضاي برادري بيشتر ميان اعضاي اين شورا تاكيد داشتند، درآن روز خبرنگار روزنامه معروف الجهات آقاي موفق احمدوزيدان ، درباميان بوده وجناب آقاي خليلي باوي مصاحبه‌ئي انجام د... كه درآن مصاحبه موضع صريح حزب وحدت را ابراز داشتند وگفتند كه ما حزب اسلامي راعضو شوراي عالي هماهنگي ميدانيم .همچنان بعداز مسافرت اخير هيئت شوراي عالي هماهنگي به مزارشريف سخنگويان جنبش وحزب وحدت مصاحبه امروز (دېروز) روزنامه پاكستاني را نفي ميكند. بنده شخصاً بـه حيث نماينده حزب اسلامي درشوراي عالي هماهنگي درجلسات مزارشريف شركت داشتم ، خدمت شما عرض شودكه تذكراين موضوع رالازم ميبينم كه براي اولين بارشوراي عالي هماهنگي به همت واپتكارسه حزب يعني حزب اسلامي، وحدت اسلامي وجنبش ملي تاسيس يافته است . اولين قراردادي كه برمبناي آن شوراي عالي هماهنگي بناپافته است وبه خط خودبنده ميباشد سه طرف دارد يعني حزب اسلامي ، وحدت اسلامي، وجنبش ملي . اين سه طرف مؤسسين شوراي عالي هماهنگي هستند ، اينها هستند كه ميتوانند تصميم بگيرند چه كسي ميتواند عضو شوراباشد وچه تنظيمي عضويت اش به تعويق بيافتد وچه كسي رياست اين شورا راداشته باشد وچه كسي عضوآن باشد، دوستاني كـه درمراحل بعد وبنابر ملحوظات خاصي به اين شورا پيوسته اند اصولاً و منطقاً اين صلاحيت راندارند . اين راهم ياد آورشويم كه بين حزب وجنبش رابطه كمالي السابق بوده وهردوطرف به عنوان متحديكديگر به منافع يكديگر احترام دارند وبه هيچ صورتي بنابر اصول متعلقه شوراي عالي هماهنگي برخلاف منافع يكديگر اقدام نخواهند كرد .

«جرير» درجواب سوال مربوط به مذاكرت ميان حزب وحدت ودولت اظهارداشت كه : استاد خليلي ازپروسه تفاهم راضي است، سلسله مذاكرات ميان حزب وحدت اسلامي وجمعيت اسلامي به گرمي ادامه دارد . تاجائيكه مادرك كرده ايم هردو طرف علاقه مندي دارند مشكلات موجود درميان شان بصورت معقول حل شود ..

وقتيكه ازجرير سوال شد كه درمورد دعوت بعضي ازافغانها به واشنگتن چه فكرميكنيد؟ وي درجواب گفت : درمورد دعوت جناح هاي افغاني بـه واشنگتن احساس ما اين است كه بهتر است دررابطه باحل مشكل جاري كشور

به عرض واشنگتن ، جناح هاي درگير ومطرح درداخل كشور، در منطقه مناسب گردهم جمع شوند وتصميمي اتخاذ نمايند.

احساس ميكنم ايالات متحده امريكا باتوجه به ملحوظات خاصي اخيراً به طرح فدرالي شدن افغانستان زياد توجه دارد كه ازنگاه ماابن چنين طرح حلال مشكلات جاري كشور نخواهد بود ودر افغانستان هيچ جناح مطرح ومهمي راسراغ نداريم كـه از چنين طرحي پشتيباني وحمايت كند .

خبرتيا

دجمعية قطرالخيرية مربوط ټولو هغو يتيمانوته چي كفالتونه ئي وارسيدلي دي خبروركول كيږي چي توزيع په لاندي ډول شروع كيږي :

۱- هغه يتيمان چي په افغانستان كي اوسيږي دهغوي دكفالتونو توزيع به دجون دمياشتي په (۱۸) تاريخ دسي شنبي په ورځ شروع اود جولاي دمياشتي /۱۹۹٦ تر (۹) تاريخ دسي شنبي ترورځي پوري دجلال آباد په دفتركي دوام لري .

۲ - هغه افغاني يتيـ...ي په پاكستان كي اوسيږي، دهغوي دكفالتونو توزيع به دجون دمياشتي د (۱۸) تاريخ دسي شنبي په ورځ شروع اودجون دمياشتي تر(۳۰) تاريخ د..شنبي ترورځي پوري دپيښور په دفتر كي دوام لري .

هيله مندیرچي دپورتني پــروګرام سره سم دجمعية قطردفترونوته مراجعه وكړي .

نوټ : ۱ - هغه يتيمان چي تېرځل ئي عكسونه نه وه راوړي بايد له ځان سره دوه قطعي عكسونه راوړي .

۲- ديتيم دموروراتګ ضروري دي اوكه چيرته رغوارې چي وكيل وټاكي نوبيه هغه صورت كي بايد وكيل سره ددوه قطعي عكسونوهم حاضرشي .

دجلال آباد ددفترآدرس :

ګودام ستګي - جلال اباد - دجمعية قطرالخيرية دفتر .

دپيښور ددفترآدرس :

ضياء الاسلام مدرسة - شيرداد ګرهي - ورسك روډ پيښور .

دملګروملتونو مامورينود

ورځ غوښتنه كړې وه چي له بيلابيلو (۸) ځايونوڅخه ځارنه وكړي چي دعراق دحكومت لخوانه ورته دشپږو ځايونو دځارني اوتفتيش اجازه ورنكړي شوي ده په ځينو ځايونو كي ويل كيږي چي ؛ دملګروملتونو دوسلو دڅارونكي تيم مامورينو دعراق د جمهوري رياست دمحافظينو داوي په باب ژوره اندېښنه څرګنده كړې ده ، نوپه همدي اساس به دپرون ورځي پــه پاي كي په دي اړه پريكړه شوي وي چي دهغي په اساس به ځارونكوته دكتني اجازه وركړي شي .

دپوېل خبرله مخي ويل كيږي چي ؛ دعراق حكومت دملګروملتونو دوسلو ځارونكي تيم ته دځارولو په سرزطاشوي دي اونوموړي تيم ته ئي اجازه وركړې ده چي پرته له پوښتي كارپوهانو اوپوځيانو څخه له نوموړي اوي ځخه ليدنه وكړي .

طرح باز

مليون دلاري اعماراين خط آهن را شركت (اي ، سي ، آي ، اس) اسپانيايي امضا نموده به تاخير افتاده است .

مقامات رسمي پاكستاني گفته اند كه بعداز تشكيل حكومت جديد دراسپانيا مذاكره وتفاهم روي اين طرح مجدداً آغاز ميگردد .

روزنامه مي نويسد : يك يادداشت تفاهم درسال ۱۹۹۵ ميان ترکمنستان وپاكستان امضا شد اما ادامه درگيري ها وناتواني اقتصادي پاكستان مانع آغاز كار اين پروژه گرديد .

به قول منابع رسمي پاكستان يك كشور اروپايي ديگر اظهارقابل براي اعمار اين پروژه نموده است .

يك هيئت بلندپايه پاكستاني عنقريب وارد تركمنستان ميشود تادرمورد آغازكار اين پروژه باسران آن كشور مذاكره نمايد .

گفته مي شــود اين جاده كه ازافغانستان و از مناطق تحت كنترول طالبان عبورمي كند، دولت افغانستان درشرايط فعلي بااعمارآن مخالف است .

اجلاس سه روزه

همچنان در ادامه اين گزارش آمده است كه بــه اساس يادداشت تفاهم هردوكشور دربخش هاي بانكي ، تجارتي تعليم وتربيه وزراعتي همكاري ميان شان را گسترش خواهند داد . هم اكنون ايران اموال صنعتي وسايل زراعتي ، مواد غذايي وساير اجناس به اندازه ضرورت به افغانستان صادرميكند و ايران آماده است درفعال ساختن وتقويت سيستم برق شهركابل نيز سهم بگيرد .

همچنان ايران اظهار آمادگي نموده كه دركاراعمار وبازسازي شهرهاي افغانستان كمك كند ويك شعبه بانكي دركابل تاسيس نمايد .

د كربلا . . .

حضرت عمر بن عبدالعزيزچي كله خليفه شو نو دهغه له لومړی ورځی نه تر وروستی پوری هركار د يزيد د حكومت د اقداماتو خلاف و ، دهغــه دوه نيم كلنــه دوره د اسلامي امت په ر راندی د راشده خلافت ضميمه گڼل كيږی ، اخر ددی څه سبب دی ؟ كه دامام حسين لاځيه د نسل او نسب په سر وای لكه څنګه چي دځينو خلكو په خيال د هغه ځينو پيرو كارانو هم د غسې وګڼل كه دا خيال پر ځای هم سهی وای نو اسلامي امت به د بنواميه پوځری ډير وخت وروسته د خلفائي راشدينو په ولـه كي نه شميرلی . حضرت عمر بن عبدالعزيز څكه راشد خليفه وشميرل شو چی د هغه ټول اقدامات دخلفائی راشدين د حكومتونو مطابق وو . هغه دخپل ځان په هكله دكړی وصيت نه لاس واخست اوله خلكو نه يې د رايو غوښتنه وكړه چی هيڅوك د ويری احساس ونكړی .د حكومت په ا وله ورځ چی يی كومی پريكړی وكړی هغه ديزيد اوله هغه نه د و ر وسته حكمرانانو د ټولو اقداماتو د غيراسلامي اوغيرقانوني ثابتولو لپاره بس دی ! و همدغو پريكړو عمر بن عبدالعزيز دا مت په وړاندی د ستری درجی خاوند او د رشد ...ليفه په مقام كی ودراوه . هغه حكومتی نظام له پوه سره بدل كړ او مسلمانانوته يی دا وښودله چي له ماسخكی چاڅه كړی هغه ټول ظلم و . زه له هغونه د برائت اظهار كوم او خپله رشته له خلفائي راشدينو سره توم .

اما حسين خو يزيد ته هسدا نښودلو چي ستا حكومت دراشده خلافت پرضد دی خو دهغه دغه خبره يزيد او حواريانو يی ونه منله مګر عمر بن عبدالعزيز قدرت ته د رسيدو سره سم د انقلابي پريكړو په واسطه د امام حسين د دريځ تائيد او توثيق وكړ .

همدا د حالاتو سر چپه كيدل او له خپلو اسلافو نه د عمر بن عبدالعزيز برائت او اسلامي خلافت ته رجوع د دی دلپل دی چی يزيد ماتی وخوړه او دحسين تلپاتی فتحه نصيب شوه .

په مادی سطح فكركوونكي همدی ته ګوری چی يزيد د توری جنګ ګټلی دی ، دی ته يی نه دی كتلی چی د چا دريځ سهی ثابت او اصول يی سرلوړی شول ! د تورو د جنګرنو ګټونكی دی ته نه ګوری چی توری زنګ وهی ، د هغو خولی پخيږی او توری اوچتوونكی مېټی هم كمزوری كيدلی شی ، خواصول هيڅكله نه كمزوری كيږی .

نور دلائل هم شته خو يواځی د دری بنيادی ټكو په رڼاكی دا په څرګنده توګه معلوميږی چی د امام حسين جذبه آنی نه وه ، دهغـه هيڅ ملګری ، ملګرتيا پرينښوده او وروسته راغلو خلكو چی ديزيد د كړونی غـری وو ، د امام حسين ...

«رض» دريځ تائيد وكړ چی همدادوی خبری پخلی دی چی حقيقتی بری دامام حسين

(رض) په برخه اوحقيقتی ماتی ديزيد په برخه وه . همدا د فطرت تقاضا او د تاريخ تجربه ده .

تصادم دوهليكوپتردرآسترليا (۷) كشته برجاي گذاشت

بعلت برخورد دوهليكوپتر نظامي آسترالیا۷ نفركشته و ۸ تن ديگر جراحت برداشتند .

به گزارش خبرگزاري فرانسه دوهليكوپتريادشده حين اجراي تمرين شبانه باهم تصادم كرده سقوط نمودند وسرنشينان آن هادرآتش سوختند .

گزارش مي افزايد كه وضع مجروحين كه جهت تداوي به شفاخانه منتقل شده اند وخيم توصيف شده است .

فراورده هاي گوشت

انگلستان » دربازار هاي سراسر پاكستان فروخته مي شود .

قطي هاي (HEINS) به وزن ٤۵۰ گرام حاوي سوپ گوشت ، سوپ گوشت وسبزي وغيره بوده كه درتركيبات تمام آن هاگوشت گاو وجــود دارد » از بسرخي دوكتوران پاكستاني كه درين مورد سوال شده ، آنها استفاده ازين نوع غذا هارا زيان آور خوانده اند .

مرض گاوديوانه كه نام اصلي آن (BSE) Bovine Spongiform Encephalopathy است غوغاي بزرگي دراروپا برپاكرد .

اتحاديه اروپا باعكس العمل عاجل نسبت به اين موضوع صدور گوشت گاو ازانگلستان به سراسر جهان را ممنوع قرار داد و اين تحريم براقتصاد اين كشور كه بابحران بيكاري وكمبود صادرات مواجه است ، تاثير منفي قابــل ملاحظه وارد كرد .

دانشمندان انگلستان شواهدي دريافتند كه مرض BSE به انسان سرايت مي كند وموجب ضعف اعصاب ميگردد وگذشته ازآن زندگي انسان را تهديدمي كند . درحاليكه صدوراين مواد به سراسر دنيا تحريم شده ولــي بعضي تجاران پاكستاني بخاطركسب منافع خاص خود، اين نوع گوشت را وارد پاكستان مي كنند وهمچنان گله گاوهايي كه ازهند ازسرحدات عبور نموده وارد پاكستان مي شوند اكثراً حامل اين نوع بيماري اند، گرچه سرحدات پاكستان باهند اكثراً مسدود اســت ولي درسرحدراجستان باپاكستان محدوديتي وجود نداشته واكثر تجــاران گاو، ازهمين خط مرزي عبورمينمايند .

يك متخصص باكتريولوژي مي گويد گاو هايي كه به مرض BSE مبتلا مي شوند معمولاً بصورت گله ازهند به پاكستان آورده شده وبه فروش مي رسند.

روزنامه مذكور به نقل از يك منبع خاص مي نويسد : حكومت آگاه است كه گوشت يادشده از دوبي وآسترالیا نيز وارد پاكستان ميگردد امــا اقدامي براي جلوگيري آن نمي كـند . بهتراست براي جلوگيري ازسرايت مرض جنون گاوي ياگاوديوانه ، انواع گوشت گله هاي مواشي كه ازخارج وارد پاكستان ميگردند ابتدا معاينه دقيق شده بعداً در بازارها ومارکيت ها عرضه شوند .

جواسيس «سيا» در

وارسال ان به سازمان اطلاعات مركزي (سيا) امريكا بودند . اين اتهام متعلق به سال هاي جنگ ايران وعراق درسال هاي (۱۹۸۰ - ۱۹۸۸م) است .

اين حادثه موجب افزايش كشيد گي بيشتر درروابط تهره تهران - واشنگتن گرديده چنانچه در مـاه جون گذشته امريكاتحريم تجارتي و سرمايه گذاري رابر ايران تحميل نمود .

جمعيت مسلمانان

وي درمورد يكي از مكاتبي كه درآن علوم ديني ، ترجمه وتفسير قرآن كريم واحاديث نبوي كتب ديني وساير احكام الهي تدريس مي شود ، مي گويد دراين مدرسه بيش از (۵۰۰) محصل احكام دين اسلام را مي آموزند .

موصوف مي افزايد كــه در ايالت كاليفورنيـاي امريـكا (٥٤) محراب مسجد وجود دارد و تعــداد مجموعي مسلمانان درسراسر امريكابه بيش از ۸۰ لك نفر تخمين زده مي شود .

دراين مساجد هنگام اداي نمازجمعه حدود دوهزارنفر موجود بوده وهنگام اداي نماز عيدين تعداد مردم به بيش از ۱۳ هزارنفرمي رسد.

وي راجع به اثرات مثبت دين مقدس اسلام درامريكا خاطرنشان ساخته كه انحطاط اخــلاقي وتعصبات نژادي درآن كشور بــه اوج خود رسيده روي همين ملحوظ است كه اكثر مشرف شده گان بدين اسلام را سياه پوست ها تشكيل مي دهد .

دافغانستان دعامي روغتيا

خبري منابع وايي چي دواكسين دپروګرام دوهمه مرحله به دجولاي له ۲۰ مي نيټي څخه پيل اوتر ۲٦ مي نيټي پوري به دافغانستان په بيلابيلو سيمو كي تطبيق شي .

نړيوال روغتيايي سازمان اوه يونسيف » وايي چي دواكسين كولو ددي پروګرام په عملي كيدوكي به ۱۵ زره روغتيا پالان برخه ولري او ۳ لكه او ۷٦ زره ماشومانو ته به دفلج واكسين اوهمداراز پولك او ۷٤ زروميندوته به ويټامين سي او (۵) لكه او٤۲ زرو پوګلنوماشومانوته به دشيري دواكسين ستني ولګيږي .

دير ژر به قوم

په دې نامه پايه هغه نامه دچاغصب شوی څنګه له هغه سره پاتی وی اوله هغی نه دی ګيه واخلی اودحاصلاتونه ئی استفاده وكړی دهرچا غصب شوی ځمكې بايد هغوی ته وسپارلی شـی داسی څه نور مسائل هم دی چی په مدارمدار به په هغه باب فيصله كوو .

نن اميد دی چی دغـه لوی مشكل هم دلقمان په ولايت كی حـل شی اوتيږېره حده پوری حل شوی هــم دی په ډېرو محدودو ساحوكی داسی دی چی تراوسه پوری هم داسی ځمكی دخلكو په لاس كی پاتی دی ، هغه هم بايد بيرته مستردشی ددی نه بعد بايد په لقمان كی هيڅوك په بل باندی زور ،زياتی ونشی كړی دلته بايد ځوك دوسلی په زور اودخپل قدرت اوقوت نه په استفادی سره دچاحق تريښولاندی نكړی شی دلته زورور هغه دی چی حقداردی په شريعت كی په اسلام كی دحق خاوند زوروردی كه ضعيف دی، نادارہ دی، بيچاره دی ، بی كسه دی، مهاجردی، خوخدا (ج) دهغه مل دی اوشريعت دهغه پل دی، مسلمانان به دهغه ملاتړكوی . مسلمان دمظلوم ملګرتيا كوی او د ظالم مقابله ،كمزوری هغه دی چی باباطله دی ، پــه ناحقه دی، دحق مخالفت كوی ، ظالم دی هغه دخدای (ج) له تائيد نــه محروم دی . هغه دمسلمانانو دملاتړ اوحمايت نه محروم دی، مسلمانان مكلف دی چی هغه به له ګريوان نه نيسی حق ته به يې مجبوروی اودمظلوم حق به له هغه نه اخلی ، كه موږ داونشو كړای اسلامي نظام نشوراوستلی داسلامي نظام اريه تقاضا همداده ، دمظلوم ملاتړ دظالم مقابله ، ظالم له غــاړی نيول او حق ته تسليمول لــه ظالم نــه دمظلوم حق اخيستل،اسلام همدی ته وائی .

اقول قولي هذا استغفرالله لي ولكم

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

زه بــه پسنه

خپلي ملي حلي شروع كړي اوطالبانو په ګډون به له ټولو اړخونو سره خبري كوي .

هيئات له حضرت مجددي نه وغوښتل چي دسولي په لاركي دنقش ترسره كولو په برخه كي خپله ونډه واخلي .

ريوټ وائي چي په مقابل كي حضرت مجددي دكونسل د هيئات احساس اوماموريت وستايه او له هغوي سره ئي خپل دانظر ګډوباله چي جګړه په هيڅ توګه دافغانستان بحران نشي حل كولاي اوبايد هڅه وشي چي دخبرو اوسولي له لاري دقضاياوو لپاره اواري ترلاسه شي .

حضرت مجددي هيئات ته وويل چي دي سبا(نــن) دطالبانو په غوښتنه كندهارته روان دي اوهلته به دطالبانو مشران دي ته تشويق كړي چي له جګړي لاس واخــلي او دمذاكــراتو اوسولي لارغوره كړي .

ريوټ څرګندوي چي دپاكستان دملي يكجهتي كونسل دهيئات په تركيب كي واكسان شامل وو .

په صوبه سرحد كي د كونسل لوي سكرتر حكيم عبدالرحيد ، دجماعت علماي اسلامي استاني مباعصمت نور، په صوبه سرحد كي دمتحده شريعت محاذ رئيس اودمهابت خان جومات خطيب مولانا محمديوسف « قريشي » ، دجماعت اسلامي پوښهور مشـر داكترمراد علي شاه او دجماعت اسلامي دصوبه سرحد لوي سكرتر سراج الحق .

آينده

افغانستان باحكومت مركزي قوي بنفع آنهانيست .

ثانياًدرصورت ادامه وضع بی ثبات كنونی و استمرارجنگهای داخلي ونبودن حكومتی كه مسوولیت منع كشت مواد مخدرو كنترول حضور نيروهای مسلح تا منظم را بدوش خود بگيرد ، خود باعث نفوذ نيروهای مسلح به ساير همسايگان وهمچنين ارسال سلاح و مواد مخدربه منطقه وجهان می شود كه اين مطلب نيز به نفع كشورهای منطقه وجهان نيست .

- مساله ای كه معاون وزارت خارجه امريكا روی آن تاكيد ميكند .

ثالثاً در وحدت افغانستان با داشتن حكومت فدرالی كه حكومت مركزی ضعيف بوده وحكومتهای محلی وصوبايی بتوانند با كشورهای خارج و همسايگان مستقلاً روابط خارجی و اقتصادی داشته باشند . دراين طرح حكومتهای محلی مجبور می شوند بخاطر نيازهای اقتصادی به همسايگان ازنظر سياسی تابع آنهاشده دست ازبلند پروازی و سـركشــي بـردارنـد و بـا همسايگان خود در جلوگيری ازقاچاق مواد مخدر همكاری نموده اقتصاد وابسته به همسايگان خارج داشته باشند.اين طرحی است كه تقريباً تمام كشورهای منطقه و جهان با آن موافق هستند.

رابعاً : در تقسيم افغانستان بر اساس قوميت و زبان و الحاق هر بخشی ازآن به همسايگان ، اگر چه اين طرح در كوتاه مدت خطرات پيش بينی شده را نسبت به كشورهای منطقه وجهان منتفی می سازد ولی در دراز مدت بعنوان يك خطری بالقوه هريك ازمناطق تقسيم شده مركز خطری در داخل كشورهای همسايه خواهد بود كـه طبيعتاً خطرات جهانی نيز دربرخواهد داشت .